# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## آمریت اطلاعات و ارتباط عامه

# خبري بلوټن

# News Bulletin

۲۳ سرطان _سال ۱۴۰۱




اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه

اخبار کامل------------------------------------------------------------------------------------------------------٤

پاریس: در بانیولی، خانواده های مهاجر دیگر نمی‌خواهند پنهانی زندگی کنند-----------------------------------------٤

انګلیس کانال: نږدې ۴۵۰ کډوال په یوه ورځ کې برېتانیا ته رسېدلي دي ---------------------------------------------۵

فرانتکس وایي د خوړو کړکېچ اروپا ته د کډوالو د نویو څپو د راتګ لامل ګرځېدلی شي -----------------------------۷

بانیولی، پاریس: از روز شنبه نهم جولای، حدود ۲۵۰ مهاجر در این اردوگاه در زیر خیمه ها زندگی می‌کنند----------۹

د کډوالی نړیوال سازمان: تېرو لسو کلونو کې افغانستان کې نژدې شپږ میلیون خلک بې ځایه شوي ----------------- ۱۲

خبرنامه

# اخبار کامل

## پاریس: در بانیولی، خانواده های مهاجر دیگر نمی‌خواهند پنهانی زندگی کنند

مهاجر نیوز



از روز شنبه حدود ۲۵۰ تن، شامل بسیاری از زنان باردار و کودکان خردسال در اردوگاهی در نزدیک پارک دی گیلان در منطقه بانیولی در حومه پاریس زندگی می‌کنند. این مهاجران ماه هاست که در خیابان می خوابند. آنها دیگر نمی‌خواهند از دید عامه به گونه پنهانی زندگی کنند. دیگر نمی‌خواهند هر روز صبح خیمه های خود را جمع کنند و منتظر پناه‌گاه باشند.

این سه‌شنبه، ۱۲ جولای، اردوگاه مهاجران در پارک دی گیلان که در کنار مونتروی و بانیولی پاریس قرار دارد، گرفتار گرمای شدید است. مهاجران در زیر یک پل که از وسط پارک می گذرد خیمه هایشان را نصب کرده‌اند.

در زیر پل، روی چمنزارها، خانواده ها در سایه درختان کمی طراوت را جستجو می کنند و روزهای تعطیلات را آنجا می‌گذرانند. هیچ خبری از مقامات نیست. به نظر می رسد که خیمه ها تحت تأثیر آفتاب سوزان قرار گرفته و پلاستیک های آن نرم می‌شود...

حدود ۲۵۰ مهاجر در این اردوگاه در زیر خیمه ها زندگی می‌کنند. آنها عمدتاً خانواده ها، زنان، کودکان، نوزادان و زنان باردار هستند.

## انګلیس کانال: نږدې ۴۵۰ کډوال په یوه ورځ کې برېتانیا ته رسېدلي دي

کډوال نیوز



د برېتانیا حکومت له لوري د ګوابنونو سربېره د تېرې دوشنبې په ورځ نږدې ۴۵۰ کډوالو د انګلیس کانال له لارې ځانونه برتانوي سواحلو ته رسولي دي.

د برېټانيا د دفاع وزارت وايي چې د تېرې دوشنبې په ورځ د جولای ۱۱مه تر ۴۴۰ ډېر کډوال د فرانسې د شمالي سواحلو څخه د انګلیس کانال له لارې برېټانیا ته رسېدلي دي. له دې سره سړ کال تر دې دمه برېټانیا ته د رسېدلو کډوالو شمېر ۱۳۷۰۰ تنو ته رسېږي.

تېره دوشنبه د برېټانیا سمندري ځواکونو انګلیس کانال کې ټولټال ۴۴۲ کډوال ونیول. فرانسوي چارواکو بيا ياد کانال کې ۹ تنه مهاجر وژغورل چې په یوه وړوکې کښتۍ کې سپاره وو او سمندر کې له ستونزو سره مخ شوي وو.

د یادولو ده چې په ۲۰۲۱ کې ۲۸۵۲۶ کډوال توانېدلي وو چې د یاد کانال له لارې برتانیا ته ورسېږي، خو په ۲۰۲۰ کې بیا ۸۴۰۴ کډوالو ځانونه دغه هېواد ته رسولي وو.

ډېری کډوال برېټانیا ته د رسېدو لپاره لومړی د فرانسې شمالي ښار کالې ته ځان رسوي او ورپسې په لاریو او یا وړوکو کښتیو کې د انګلیس کانال له لارې برېټانوي سواحلو ته د اوښتو هڅه کوي.

د فرانسې خبري اژانس تېره دوشنبه خبر ورکړ چې یو خبریال یې نږدې ۴۰ کډوال لیدلي چې له فرانسوي سواحلو په یوه بادي کښتۍ کې یې برتانیا ته د ورتګ هڅه درلوده. د نوموړي په حواله یادو کډوالو ګرېولین ساحل ته نږدې پر خپلو اوږو یوه کښتۍ لېږدوله چې وروسته یې اوبو ته واچوله او پکې سپاره شول.

دغه خبریال زیاته کړې ده چې ډېریو دغو مهاجرو د ژغورنې واسکټونه درلودل او په ډله کې یې ښځې او ماشومان هم وو.

ګواښونه او هڅې

د برېټانیا او فرانسې د ګډو هڅو سربېره لا هم ډېری کډوال د انګلیس کانال له لارې برېټانیا ته د اوښتو هڅه کوي.

په ورته مهال د فرانسې د کورنیو چارو وزارت شمېرې ښيي چې د دغه هېواد ځواکونو د جنورۍ له لومړۍ نېټې د جون تر ۱۳مې پورې د انګلیس کانال له لارې برېټانیا ته د ۷۷۷ هڅو مخه نیولې چې تر ۲۰ زره ډېر کډوال پکې ښکیل وو.

د یادولو ده چې د تېر اپریل په وروستیو ورځو کې لندن د پناه غوښتنې هغه [شخړیزه مسوده تصویب](#) کړه چې له مخې به یې دغه هېواد ته رسېدلي ناقانونه کډوال روندا ته استول کېږي، خو دغه پلان تر دې دمه عملي شوی نه دی .

څو اوونۍ مخکې د برېټانیا حکومت اعلان کړی و چې له دې وروسته به هغه کډوال چې په ناقانونه توګه برېټانیا ته رسېدلي دي اړ دي چې [الکترونیکی لاس بندونه](#) واغوندي .دا لاس بندونه چې په جي پي اس مجهز دي د کډوالو موقعیت ښيي. دوی مجبور دي چې په منظمه توګه د پولیسو قومندانۍ او یا د کډوالۍ مرکزونو ته مراجعه وکړي.

# فرانتکس وايي د خوړو کرکېچ اروپا ته د کډوالو د نويو څپو د راتګ لامل ګرځېدلی شي

کډوال نيوز



د اروپا د پولې ساتنې اداره يا فرانتکس اندېښنه څرګندوي چې اوکراين کې د جګړې له کبله د نړۍ په کچه رامنځته شوی غذايي کړکېچ اروپا ته د کډوالو د نويو څپو لامل ګرځېدلی شي .

د اروپا د پولې ساتنې ادارې لنډمهالي مشرې ايجا کالناجا د جولای ۱۲مه وويل چې اوکراين کې د روانې جګړې له امله د نړۍ په کچه رامنځته شوی غذايي کړکېچ کولی شي چې د اروپا ته د کډوالو د نويو څپو د راتګ لامل وګرځي. نوموړې خبرداری ورکړ چې اروپايي ټولنه بايد د نورو کډوالو راتګ ته تياری ونيسي.

هغې پراګ کې د اروپا د کورنيو چارو وزيرانو غونډه کې وويل چې د اکراينيانو نه علاوه »موږ بايد د هغو کډوالو راتګ ته هم چمتووالی ونيسو چې د خوړو ناخونديتوب له امله له نورو سيمو څخه اروپا ته راځي«.

اوکراین کې جګړې دغه هېواد کې د د غله جاتو تولید دروولی دی. دمګړی نږدې ۲۰ میلیونه ټنه غله جات د تور سمندرګي بندرونو کې بند پاتې دي. دغه حالت نه یوازې د بیو د لوړوالي لامل شوی بلکې افریقایي او د منځني ختیځ هېوادونو کې د غذایي کړکېچ د رامنځته کېدو چانس یې هم زیات کړی دی.

د بیو لوړوالی، د خوراکي توکو کموالی او پر بېلابېلو ټولنو یې اغېزې کولی شي چې خلک کډوالی ته اړ کړي. اقتصادي کړکېچ یو له هغو دلایلو دی چې خلک د خپلو هېوادونو پرېښودو ته هڅوي.

د یاد سازمان مشرې زیاته کړې ده چې دغه حالت به د کډوالی د نویو څپو د رامنځته کېدو سبب ګرځېدلی شي او دوی باید ورته چمتووالی ونیسي. د اروپا د پولې ساتنې اداره په پام کې لري چې تر ۲۰۲۷ کال پورې خپل سرتېري ۱۰ زره تنو ته لوړ کړي چې په وژونکو او ناوژونکو وسلو به مجهز وي.

دا په داسې حال کې ده چې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو ادارې مشر فیلیپو ګراندي تېر جون ویلي وو که چېرې پر اوکراین د روسیې د یرغل له امله د رامنځته شوي غذایي کړکېچ مخه و نه نیول شي، دا به نړۍ کې د بې ځایه شویو کسانو د شمېر د زیاتوالی سبب ګرځي.

د تېرې فبرورۍ پر ۲۴مه پر اوکراین د روسیې یرغل له دغه هېواد څخه د زیات شمېر اوکراینیانو د بې ځایه کېدو لامل شو. اروپايي ټولنې بیا په یوه بې سارې پرېکړه کې بې ځایه شویو اوکراینیانو ته د لنډمهال لپاره د ساتنې اسناد ورکړل. د ملګرو ملتونو په حواله اوسمهال د اوکرایني کډوالو شمېر شاوخوا ۵،۶ میلیونه تنو ته رسېږي چې تر میلیون ډېر یې پولنډ کې اوسېږي.



## بانیولی، پاریس: از روز شنبه نهم جولای، حدود ۲۵۰ مهاجر در این اردوگاه در زیر خیمه ها زندگی می‌کنند

مهاجرنیوز

برخی از خانواده ها در واقع یک و نیم ماه است که در زیر خیمه ها به عنوان سرپناه های موقت که توسط سازمان اتوپیا۵٦ به آنها داده شده است، در کنار این جاده می‌خوابند. پییر ماتوران، هماهنگ کننده این سازمان در پاریس می‌گوید: «به طور کلی، هر روز صبح خیمه ها و پتوها را جمع می‌کنیم. اما پس از اعتراض روز شنبه، خانواده ها تصمیم گرفتند برای همیشه در بانیولی بمانند. دیگر خیمه ها را هر صبح جمع نمی‌کنیم«.

جای خالی در مرکز ویژه برای مهاجران اوکراینی

چندین سازمان غیردولتی و حمایت کننده مهاجران، از جمله داکتران جهان، پانتان سولیدر، اتوپیا۵٦ و کولیکتیف سولیدریتی میگران ویلسون تظاهراتی را به روز شنبه به خاطر ایجاد مرکز ویژه پذیرش اوکراینی ها در پورت دو ورسای و برخورد دوگانه پرفکتور ایل دوفرانس سازمان دهی کردند. آنها در این اعتراض گفتند از دولت می‌خواهیم جاهای خالی این مرکز را در اختیار خانواده های خیابانی قرار دهد. به گفته پییر ماتوران «بین ۳۰۰ تا ۵۰۰ مکان هر شب در مرکز پورت دو وارسای خالی است«.

پس از تظاهرات، خانواده‌ها تصمیم گرفتند تا شیوه دیگری را اختیار کنند و خود را نمایان سازند، به این امید که به آنها سرپناه داده شود. ناسارا ۲۴ ساله، مهاجر اهل عاج، که لباس آبی به تن دارد ادعا می‌کند: «ما جایی برای خواب نداریم، بنابراین خواستیم اینجا بمانیم .ما از اینکه مجبوریم تا همیشه از یک سو به سوی دیگر خیمه بزنیم، خسته شده‌ایم. همه ما بیرون هستیم اما حداقل با هم هستیم«.

در شعاری نوشته شده: «جای خانواده ها در زیر خیمه ها نیست.» اما ماه هاست که زندگی روزمره این خانواده ها در خیابان می‌گذرد. ناسارا پنج ماهه باردار است. وی مادر یک کودک پنج ساله نیز است. پسرش در حوزه دوازدهم پاریس به مکتب می‌رود. این زن مهاجر هفت سال است که در فرانسه زندگی می‌کند و ادعا می‌کند که هرگز محل اقامت ثابتی نداشته است. او گفت: «ما بیرون می‌خوابیم و صبح ها پسرم را به مکتب می‌برم«.

مریم که او نیز اهل ساحل عاج است، دختر شش ماهه اش روی زانو هایش نشسته است. او در فبروری سال گذشته وارد فرانسه شد. مریم توسط نهاد ۱۱۵ در بیش از بیست هتل اسکان داده شد اما در هر بار فقط برای چند شب... این مادر جوان می‌گوید که دیگر از بی سرپناهی خسته شده است. وی می‌گوید: « در اینجا، حدود سه ماه است که بیرون می‌خوابم«.

»این برخورد دوگانه ناعادلانه است«

مسانی زن مهاجر ۲۲ ساله که دو ماه است با همسر و پسر یک ساله اش در زیر خیمه زندگی می کنند، گفت: «۱۱۵ دو ماه مس شود که به ما جایی برای خوابیدن نداده است«.



ماسانی دو ماه است که با همسر و پسر یک ساله اش در فرانسه در زیر خیمه زندگی می‌کنند. عکس: مهاجرنیوز

این زن جوان در تظاهرات روز شنبه شرکت کرد و خواستار رفتار یکسان با همه مهاجران شد. او از برخورد دوگانه مقامات در برابر مهاجران اوکراینی و دیگران انتقاد می‌کند و می‌گوید: «کسانی هستند که ماه ها اینجا هستند و پناه‌گاه ندارند. اوکراینی ها می‌آیند و بلافاصله برایشان اسکان داده می‌شود. این برخورد دوگانه ناعادلانه است.» وی افزود: «اگر مکان‌های اقامتی خالی است، پس ما چرا در خیابان هستیم؟«

از روز شنبه، خانواده ها در این اردوگاه با همکاری سازمان ها و باشندگان منطقه که مرتباً برای آنها بوتل های آب آشامیدنی و مواد غذایی توزیع می کنند، به سر می‌برند. اما دسترسی به آب شوینده و سرویس بهداشتی ندارند. در اینجا توالت های عمومی نیز کافی نیستند.

نماینده سازمان اتوپیا٥٦ می‌گوید: «اردوگاه به سرعت بزرگ می‌شود و شهردار منطقه تازه شروع به اقدام کرده است. معاون او به ما گفت که موضع تخلیه اردوگاه را با پرفکتور در میان خواهد گذاشت«.

تحمل موج گرمای چند روز آینده احتمالا برای خانواده ها دشوار خواهد بود. به همین دلیل، برخی از کنار جاده خارج شده اند تا به چمن های پارک و در زیر سایه های درختان بروند. به این ترتیب، خانواده های مهاجر و بی سرپناه ایام تعطیلات را در پارک ها می‌گذرانند.

## د کډوالۍ نړیوال سازمان: تېرو لسو کلونو کې افغانستان کې نژدې شپږ میلیون خلک بې ځایه شوي

د امریکا غږ




داخلي بې ځایه شوي افغانان

د کډوالۍ نړیوال سازمان په خپل یو تازه راپور کې په افغانستان کې د کورنیو بې ځایه شویو، راستانه شویو، افغانانو د اړتیاو، اسیب پذیری او نورو اړوندو مسایلو په اړه تازه ارقام خپاره کړي دي.

د بې ځایه شویو د شمېرو د تعقیب اداري (DTM) د ارقامو په اساس، د ۲۰۱۲ څخه نیولې د ۲۰۲۲ د مې تر میاشت پورې څه باندې ۵/۸ میلیون افغانان په هیواد کې دننه بې ځایه شوي دي. راپور وايي چې په دغې ډلې کې یې ۱/۸ میلیون خلک مجبور شوي دي چې خپلې سیمې او خپل کورونه پرېږدي.

په دغه راپور کې همدغه راز ویل شوي دي چې له ۲۰۱۲ راپدیخوا څه باندې ۱۰ میلیون هغه خلک چې مخکې بې ځایه شوي وو، بېرته خپلو سیمو، کلیو او باندو ته ستانه شوي دي. په دغې ډلې کې ۴/۶ میلیون یې د ۲۰۲۱ کال د جنورۍ څخه نیولې د ۲۰۲۲ تر اپریل پورې خپلو سیمو ته ستانه شوي دي.

د دغه سازمان د شمېرو له مخې تر ۵/۶ میلیون ډېر خلکو له افغانستان څخه د باندې مهاجرت کړی دی او همدومره نور کسان بېرته افغانستان ته راستانه شوي دي.

د ۲۰۲۱ او ۲۰۲۲ ترمنځ مودې کې د نورو ولایتونو په پرتله د افغانستان لسو ولایتونو ته ډېر داخلي بېځایه شوي ورغلي دي. د کابل ولایت ته ۳۴۶۴۶۸زره خلک ورغلي او ځای په ځای شوي دي. کندهار او بلخ دوه نور هغه ولایتونه دي چې په کې د داخلي بې ځايه شویو شمېر تر نورو زیات دی او په ترتیب سره ۱۷۷۰۷۸زره او ۱۴۷۵۰۸زره خلک په کې ځای په ځای شوي دي.

هلمند ته هم د دغه راپور په اساس ۱۲۱۴۴۶ داخلي بېځایه شوي ورغلي دي .هرات ته ۱۱۸۱۸۹، کندز ته ۸۸۶۴۴، زابل ته ۶۲۳۶۱، ننګرهار ته۵۶۲۱۶، تخار ته ۴۹۹۳۵ او بادغیس ته ۴۹۶۵۸ داخلي بې ځایه شوي ورغلي او ځای په ځای شوي دي.

د دغې اداري د ارقامو په اساس په یادې شوې مودې کې سلګونه زره داخلي بې ځایه شوي بېرته خپلو مینو او سیمو هم ستانه شوي دي. د کندز ولایت ته )۵۵۹۹۹۹(، کندهار ته (۴۴۶۵۰۳)، ننګرهار ته (۳۸۰۲۳۶)، بغلان ته) ۳۲۴۲۶۷(، هلمند ته (۲۸۶۷۱۶)، جوزجان ته (۲۸۰۰۰۳)، بلخ ته (۲۵۷۸۶۰)، تخار ته )۲۳۴۱۲۴(، فاریاب ته (۲۰۸۷۸۹) او د کاپیسا ولایت ته(۱۶۰۶۸۱) داخلي بې ځایه شوي بېرته ستانه شوي دي.

د (DTM)د ارزیابی په اساس، دوی په دې اړه له څه باندې ۸۶زره کسانو سره مرکې او خبرې اترې کړي دي. د دوی په راپور کې راغلي دي چې د ۲۰۲۲ د اپریل تر میاشتې پورې یې د افغانستان ۳۴ ولایتونه، ۴۰۱ ولسوالۍ او د مېشتېدو ۱۴۱۰۷ ځایونه لیدلي او ارزولي دي او د کلیو او باندو له ۸۶۲۱۰ استازو او مهمو کسانو سره یې د داخلي بې ځایه شویو په اړه مرکې کړي دي.

راپور وایي په بېځایه شویو کورنیو کې دوه-درییمه برخه یې د خریدارۍ توان او یو-څلورمه برخه یې ضروري غذایي مواد نلري. همدغه راز ویل شوي دي چې په افغانستان کې تر نیمایي ډېرې کورنۍ د ګټې وټې هېڅ منبع نلري.

د شمېرو له مخې، ۶۹ په سلو کې کورنۍ د ابتدایي ضروري غذا د اخیستلو توان نلري، ۱۶ په سلو کې کورنۍ د ورځې یو ځلې او یا تر هغه کم خوراک کوي، ۵۵ سلنه کورنۍ د ګټې وټې سرچېنه نلري او څه باندې ۲/۸ میلیون کورنۍ پوروړې دي.

**د داخلي بې ځایه شویو کورنیو د کډوالۍ لوی علتونه، دوامداره جګړې، خشونت، بشري حقونو ته نه درناوی، د ځان ساتلو اندېښنې، طبیعي پېښې او د انسان په لاس رامنځ ته شوی ناورین بلل کېږي.**

خبرنامه